**د افغانستان اسلامی امارت**
**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**
**د علمی مجمع ریاست**
**دارالإفتاء**

شماره ...............  نیټه۲۱ / ۴/ ۱۴۴۵

فضل الرحیم دجلال آباد ولایت اتمي ناحیې اوسیدونکی إستفتاء !
عنوان : إستفتاء **(د پلار په خپل ژوند کې خپلو اولادونو ته د برخي معلومولو حکم).**

**د ارشاد، حج اواوقافو وزارت دمجمع علمي محترم رئیس صاحب ته !**
**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :**

**محترم مفتی صاحب !**
یو سړی په ژوندانه کې خپلو اولادونو ته په خپله ځمکه کې برخی معلومي کړي خو په برخو کې تفاوت وي چاته ډیر تعین کړي او چاته کم او چاته ښه چاته خراب خو دا برخي ورته تسلیم نکړي او تروفات پوری په خپل جایداد متصرف او قابض وي او تقابض صورت نه وي نیولی او اجاره او کرایه ورکول او کرایه او حاصلات یې خپله اخیستی وي او ویلی یې وي چې زما په ژوندانه بل څوک د تصرف حق نلري ، نو آیا دا هبه او تملیک دی که وصیت ، که د وصیت شکل ولري نوآیا په زیات اوکم ورکولو سره پلار ګنهګار دی او که نه او که دا وصیت وي نو کوم چاته چې کمه برخه رسیدلی ده آیا هغه د پلار د وفات نه وروسته د ثلث څخه غیر نورمال کښی خپله برخه طلب کولی شی او که نه او دلایل یې څه دي ؟ ( أفتو تؤجروا )

د مجمع علمي دریاست حکم: (د دارالإفتاء آمریت ! په دی اړه لازم إجراات ترسره کړئ
دإفتاء آمریت ګومارنه: ( مولوی عبدالستار (خادم )! په دې اړه شرعي معلومات ورکړئ)

**الجواب باسم ملهم الصواب**
**حامدا ومصلیا وبه نستعین**

**محترم مستفتي صاحب!**
چې پلار په خپل ژوندانه او صحت کې واک او اختیار لري څو خپل ټول جایداد یا ځیني برخه یې خپلو اولادونوته په مساویانه ډول او یا په توپیر سره هبه کړی خو پلار ته پکار ده څو د خپلو اولادونه ترمنځ په ورکولو د مال ، جایداد او عطایاو کې کوم توپیر ونکړي مګر داچې کوم یو په دوی کې تر نورو ورونو فوقیت ولری مثلا چې د نورو ورونو په نسبت ډیر متقی او دیانت داره وي ، اویا دا چې طالب د علومو دینیه وي ، یا داچې کوم یو په دوی کې د کسب کولو نه عاجز وي یعنی (معیوب وي) نو بیا که یې دغه مذکور بچي ته زیات مال ورکړو په خپل ژوند کې نو کوم باک یې نشته او که داسې نه و بیا د فرق کولو څخه اجتناب پکار دی بغیر له کوم موَجّ ّه دلیل نه دا ډول هبه اګر که قضاء نافذ اوصحت لري لکن دیانة هبه کونکی ګنهګار بلل کیږي.
البته د هبې د صحت او سمون لپاره اړینه ده څو یې پلار هبه کړی شی موهوب له ته په خپل ژوندانه کې د هغه په قبضه او تصرف کې ورکړي داچې اوس پلار په خپل ژوندانه کې یادې

ځمکې په خپل تصرف کې درلودې او دخپلو اولادونو په قبضه کې یې ندي ورکړي چې دې صورت کې یادې هبې صحت نده موندلی
دپورتني تشریح په اساس د یادې شوې موضوع په اړه باید ووایو، چې د پلار په خپل ژوند انه کې پورته یاد شوي ډول تقسیمات ظاهرا اوعرفا هبه بلل کیږي خو دا چې تر مابعد الموت پورې یې تړاو ورکړي نو د علم فقهې د تعریف له مخې ورته وصیت ویل کیږي خو دواړه صورتونه ناسم دي ځکه د یوکس وصیت وارث ته بې د اجازې د ورثه وو نه جواز نلري او د هبې په صورت کې یې هبه تامه شوي نده بناء: که ټول وارثین د پلار په تقسیماتو باندي راضي وي بیا کوم مشکل نشته اما د عدم رضایت په صورت کې به ټول متروکه جایدادونه د علم فرائضو د اصولو او مقرراتو سره سم په ټولو وارثینو تقسیمیږي.

**والدليل على ماقلناه :**

**(۱) ـ (عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- :(لاَ وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ وَلاَ إِقْرَارَ بِدَيْنٍ) السنن الكبرى (۶ټوک (۱۷۷) مخ ـ طبع دائرة المعارف).**

**(۲) ـ (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : سَوُّوا بَيْنَ أَوْلادِكُمْ فِي الْعَطِيَّةِ فَلَوْ كُنْتُ مُفَضِّلا لَفَضَّلْتُ النِّسَاءَ) السنن الكبرى (۶ټوک (۱۷۷) مخ ـ طبع دائرة المعارف).**

**(۳) ـ (عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ : جَاءَ بِى أَبِى يَحْمِلُنِى إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ اشْهَدْ أَنِّى نَحَلْتُ النُّعْمَانَ مِنْ مَالِى كَذَا وَكَذَا قَالَ :« كُلَّ بَنِيكَ نَحَلْتَ مِثْلَ الَّذِى نَحَلْتَ النُّعْمَانَ ( قَالَ : لاَ قَالَ :« فَأَشْهِدْ عَلَى هَذَا غَيْرِى أَلَيْسَ يَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيْكَ فِى الْبِرِّ سَوَاءً ) قَالَ : بَلَى قَالَ (فَلاَ إِذًا ) السنن الكبرى (۶ټوک (۱۷۷) مخ - طبع دائرة المعارف).**

**(٤) ـ (عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ قَالَ : نَحَلَنِى أَنَسٌ نِصْفَ دَارِهِ قَالَ فَقَالَ أَبُو بُرْدَةَ : إِنْ سَرَّكَ يَجُوزُ لَكَ فَاقْبِضْهُ فَإِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَضَى فِى الأَنْحَالِ أَنَّ مَا قُبِضَ مِنْهُ فَهُوَ جَائِزٌ وَمَا لَمْ يُقْبَضْ فَهُوَ مِيرَاثٌ قَالَ فَدَعَوْتُ يَزِيدَ الرِّشْكَ فَقَسَمَهَا) السنن الكبري ج/۴ص ۲۸۰طبع مكتبة الحقاينة).**

**(۵) ـ (لاَ وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ ؛ وَلأَنَّ الْوَصِيَّةَ لِلْوَارِثِ تُلْحِقُ الضَّرَرَ بِبَقِيَّةِ الْوَرَثَةِ وَتُثِيرُ الْحَفِيظَةَ فِي نُفُوسِهِمْ وَقَدْ نَهَى الْقُرْآنُ الْكَرِيمُ عَنْ ذَلِكَ فِي قَوْلِهِ (مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ) الموسوعة الفقهية ج/۳۰ص ۲۵۴ طبع مكتبة الحقاينة).**
**(۶) ـ ( الْهِبَةُ عَقْدٌ مَشْرُوعٌ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { تَهَادَوْا تَحَابُّوا } وَعَلَى ذَلِكَ انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ وَتَصِحُّ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ وَالْقَبْضِ ) وَالْقَبْضُ لَا بُدَّ مِنْهُ لِثُبُوتِ الْمِلْكِ) العناية شرح الهداية (۱۲) ټوک (۲۶۴) مخ).**

شماره ...............

نیټه۲۱ / ۴/ ۱۴۴۵

(۷) – (المالك هو المتصرّف فى الأعيان المملوكة له كيف شاء) تفسير بيضاوي (۱) ټوک (۷) مخ - طبع رشيديه).

(۸) – (وَرُكْنُهَا [أي الهبة] هو الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ، وَحُكْمُهَا ثُبُوتُ الْمِلْكِ لِلْمَوْهُوبِ له» (البحر الرائق - جلد ۷ صفحه ۴۸۳- طبع حقانيه).

(۹) - (و) شرائط صحتها ( في الموهوب أن يكون مقبوضا غير مشاع مميزا غير مشغول ) (وَرُكْنُهَا) هو (الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ) (وَحُكْمُهَا ثُبُوتُ الْمِلْكِ لِلْمَوْهُوبِ له) درالمختاركتاب الهبه (۵) ټوک (۵۶۷) مخ) طبع مكتبة الحبيبية كوئټه).

(۱۰) - (لَوْ وَهَبَ مَنْ كَانَ لَهُ عِدَّةُ أَوْلَادٍ جَمِيعَ أَمْوَالِهِ لِأَحَدِهِمْ فِي حَالِ صِحَّتِهِ وَسَلَّمَهُ إيَّاهَا كَانَتْ صَحِيحَةً وَمَعَ ذَلِكَ فَتَرْجِيحُ بَعْضِ الْأَوْلَادِ عَلَى الْبَعْضِ مَكْرُوهٌ كَرَاهَةً تَحْرِيمِيَّةً) درر الحكام شرح مجلة الأحكام (۲) ټوک (۴۳۴) مخ طبع - دار الكتب العلمية).

(۱۱) – (يجوز تفضيل بعض الأولاد على بعض لمبرر شرعي، ومن المبررات الشرعية: العاهات المانعة من التكسب كالزمانة، والعمى المانع، والشلل، وكذلك العجز عن التكسب، والاشتغال بالعلم الديني) الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (۵) ټوک (۶۵۳) مخ – طبع - دار الفكر ) .

(۱۲) – (يُكْرَهُ تَفْضِيلُ بَعْضِ الْأَوْلَادِ على الْبَعْضِ في الْهِبَةِ حَالَةَ الصِّحَّةِ إلَّا لِزِيَادَةِ فَضْلٍ له في الدِّينِ وَإِنْ وَهَبَ مَالَهُ كُلَّهُ لواحد جَازَ قَضَاءً وهو آثِمٌ كَذَا في الْمُحِيطِ) بحر الرايق (۷) ټوک (۲۸۸) مخ – طبع - دارالمعرفة ).

(۱۳) – (رَجُلٌ وَهَبَ في صِحَّتِهِ كُلَّ الْمَالِ لِلْوَلَدِ جَازَ في الْقَضَاءِ وَيَكُونُ آثِمًا فِيمَا صَنَعَ وَلَوْ كان الْوَلَدُ مُشْتَغِلًا بِالْعِلْمِ لَا بِالْكَسْبِ فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُفَضِّلَهُ على غَيْرِهِ) الفتاوى الهندية (٤) ټوک (۳۹۱) مخ - طبع نورانی کتب خانه).

(۱۴) – (وشرائط صحتها في الموهوب أن يكون مقبوضا غير مشاع مميزا غير مشغول ... وركنها هو الإيجاب والقبول) الدر المختار (۲) ټوک (۳۲۸ ) مخ - طبع مكتبة الحبيبية - كوئټه - بحواله فتاوى فريديه (۸) ټوک (۵۳) مخ).

مولوی عبدالستار (خادم)